1. Pashto demonstratives are like English demonstratives 'this/these, that/those', except that there is is three-way distinction among Pashto demonstratives - close, middle, and far away - whereas in English there is only a two-way distinction - close (this/these) and far (that/those).

2. Like English, Pashto demonstratives can be used as adjectives or as pronouns, e.g.
   'It's this.' (used as pronoun) دغه ده.
   'It's this city.' (used as adjective) دغه ښار دی.

3. The two-syllabled demonstratives are pronounced with stress on the first syllable. Similarly spelled strong pronouns are stressed on the last syllable.
   [ágha] هغه = 'that' (demonstrative)
   [aghá] هغه = 'he (out of sight)' (strong pronoun)

## Practice

1. In the following exchange from the dialogue, identify each underlined word as a demonstrative or a strong pronoun; explain its meaning by giving a literal translation of the phrase.

د اسد ورور: د هغه سره سالو قیمت څو دی؟
دوکاندار: د دې؟
د اسد ورور: نه د هغه بل.
دوکاندار: د دې؟
د اسد ورور: هو د همدغه.
دوکاندار: ددې قیمت څلورزره افغانۍ دی.

2. Finish the following sentences.

۱. دا پېغله ښايسته ده. هغه پېغله ......
۲. د هغه موټر قیمت ډېر زيات دی. د هغه موټر قیمت.....
۳. هوغه د بارام خان کلا ده. دغه .....
۴. دغه بايسکل د پتنګ دی. هغه بايسکل .....
۵. دا کتاب پتنګ ته مه ورکوه. هغه کتاب ورته ....

3. The following sentences are from previous units. Identify the demonstrative pronoun in each, and explain its meaning in the sentence.

۱. معنا يې دا ده چه خور ورور ته ورته وی.
۲. دا مېله په مزارشريف کې کېږي.
۳. وروسته له هغه نه بيا ناروغان ګوري.
۴. په پښتنو کې دا ضرور نه ده چه مېلمه وبلل شي.
۵. بله خبره دا ده چه پښتانه مېلمه ته ښه دوډۍ برابروي.

## Section 5: Reading

په کابل کې، پرته له يو څو مغازو نه، په نورو دوکانونو او مغازو کې په شيانو باندې نرخونه نه وی ليکل شوی. مغازه داران او دوکانداران خلکو ته د هر شی نرخ پخپله وايی. يو شی د هغه له مناسب نرخ نه، معمولاً، زيات بيه کوی. خو اخستونکی يې په کم نرخ غواړی. حتی که دوکاندار يو شی په مناسب نرخ هم بيه کړی اخستونکی هرو مرو ور سره چنې وهی. څکه دا د افغانانو او حتی د ټولې سيمې د خلکو دود دی.

دوکاندار اکثره نابلده خلکو، په تېره بيا خارجيانو ته يو شی د هغه له اصلی نرخ نه يو يا دوه چنده زيات بيه کوی. کله کله يې لا څو چنده زيات بيه کوی. مثلاً: ښايی د يوې پوستينچې نرخ زر افغانۍ وی، خو ښايی چه يو دوکاندار يې يوه خارجی ته په لس ياپنځه لس زره افغانۍ بيه کړی. که خارجی نابلده وی، په لس يا پنځه لس زره يې اخلی. که بلد وی، چنې ورسره وهی او په کم نرخ يې ورنه اخلی.

## New Vocabulary

**Nouns**

store *F1* [maghāzá] مغازه

thing, goods *M1* [shay] شی

price *M2* [nərkh] نرخ

storekeeper *M1* [maghāzadār] مغازه دار

buyer *M3* [akhistúnkay] اخستونکی

custom, tradition *M2* [dod] دود

sheepskin jacket *F1* [postinchá] پوستينچه

foreigner *M2* [khāreji] خارجی

**Verbs**

price *vb phr.* [bayá kaw-] بيه کو-

bargain *phr.* [cháne wah-] چنې وه-

**Adjectives**

reasonable *1* [munāsíb] مناسب

inexperienced *4* [nābalada] نابلده

real, original *4* [aslí] اصلی

experienced *4* [balád] بلد

**Adverbs, phrases, idioms**

written [likə́l sawí] لیکل شوی

everything [árshi] هرشي

usually [māmúlan] معمولاً

... times as much [ ... chánda zyāt] ... چنده زیات

even more [lā tso] لا څو

for example [másalan] مثلاً

maybe [xáyi] ښایي

It might be that [xáyi tse] ښایي چه

**Preposition**

except for [práta lə ... na] پرته له ... نه

## Have You Understood?

1. Summarize the passage in English.

2. Answer the following questions:

۱. په مارکېټ کې خلك اکثره چنې نه وهي؟

۲. دوکاندار هر شي په مناسب نرخ بیه کوي؟

۳. دوکاندار هر چا ته یو نرخ وایي؟

٤. دوکاندار خارجیانو ته هرشي قیمته بیه کوي؟

٥. افغانان څنگه چنې وهي؟ امریکایان څنگه چنې وهي؟

2. Describe, in English, the bargaining process.

## Section 6: Diversions

A man was in the bazaar selling a turkey. Another man approached him and asked:
دا فیل مرغ په څو ورکوی؟

The seller replied: په سل افغانۍ.

The buyer said: سل افغانۍ ښېخی زیاتې دی.

The seller said:
دا څه وایې؟ دا ډېر لوی فیل مرغ دی. هلته په هغې بلې کوڅې کې یو سړی یو ووړ طوطی په پنځوس زر افغانۍ خرڅوی.

The buyer said: طوطی خو خبرې کوی!

The seller retorted: زما فیل مرغ فکر کوی!

turkey *n, M2* [pilmúrgh] / [filmúrgh] فیل مرغ

small *adj, irreg.* [woṛ] ووړ

parrot *n, m1* [totí] طوطی

sell *der. tr. vb.* [khartsaw-́] خرڅو-

talk *phr.* [khabə́re kaw-́] خبرې کو-

think *phr.* [fɪkír kaw-́] فکر کو-

# Unit 12: ملا يې ژوبله ده

## Section 1: Dialogue

رابيا: بيګا ماښام نه وې. خيريت ؤ؟
داود: هو! نه وم. شفاخانې ته د اسد پوښتنې ته تللې وم.
رابيا: ولې! په اسد څه شوی؟
داود: موټر يې ټکر کړی ؤ. ملا يې ژوبله ده.
رابيا: ډېره ژوبله ده؟
داود: ښايسته زيايه ژوبله ده، خو اميد دی چې خطرناکه به نه وي.
رابيا: ډاکټر څه وايي؟
داود: ډاکټر يې عکسونه اخستي دي، خو نتيجه يې نه ده معلومه.
رابيا: پتنګ ليدلی دی؟
داود: هو! هم پتنګ ليدلی او هم يې ليلا هر يو دوه ساعته بعد ګوري.
رابيا: پتنګ يې د ملا په باره کې څه وايي؟
داود: هغه هم عکسونو ته انتظار باسي؟
رابيا: ته بيا څه وخت ورځې؟
داود: نن ماښام. ولې ته هم غواړې چه ورشې؟
رابيا: هو! زه هم غواړم چه ورشم.
داود: زه به پاو باندې اوه بجې درشم راسره وابه دې خلم.
رابيا: تشکر.

## New Vocabulary

**Nouns**

hospital *F1* [shafā khānā́] شفاخانه

accident *M2* [ṭakár] ټکر

back *F3* [mlā] ملا

hope *M2* [oméd] امید

picture, x-ray *M2* [aks] عکس

result *F1* [natijá] نتیجه

**Adjectives**

injured *1* [zóbəl] ژوبل

serious *1* [khatarnāka] خطرناکه

known *1* [mālúm] معلوم

**Verbs**

you were [we] وې

it was [wə] وه

I was [wəm] وم

I had gone [tlə́lay wəm] تللی وم

had been in [kə́ṛay wə] کړی وه

has taken [akhísti di] اخستی دی

has seen [lidə́lay da] لیدلی ده

**Adverbs, Phrases, Idioms**

last night [begā] بیګا

what happened [tsə́ səwi] څه شوې

inquiry about x [de x puxtə́na] د x پوښتنه

afterwards [bād] بعد

x pick y up [x sara y ákhl-] x سره y اخلـ-

## Practice

1. Fill in different names in the sentence: د ــــ پوښتنې ته څم.

2. Memorize the last five lines of the dialogue. Take David or Rābyā's part and practice with a partner. Then substitute different time phrases for نن ماښام and make corresponding changes in the time you promise to pick Rābyā up.

## Section 2: Where Does It Hurt?

<u>head *M2* [sar] سر</u>

chin *F1* [zə́na] زنه

neck *F1* [ghā̆ṛa] غاړه

tooth *M2* [ghāx] غاښ

eye *F1* [stə́rga] سترگه

forehead *M3* [tandáy] تندی

mouth *F1* [khwlə́] خوله

cheek *F irreg.* [barkhú] بارخو

hair *M1* [waxtə̄́n] وېښتان

lip *F1* [súnda] شونډه

face *M2* [məkh] مخ

ear *M2* [ghwag] غوږ

nose *F1* [páza] پزه

tongue *F1* [zə́ba] ژبه

<u>body *M2* [badán] بدن</u>

chest *M2* [kogə́l] کوگل

stomach *F1* [khéṭa] خېټه

back (upper) *F3* [shā] شا

hip *M3* [kunaṭáy] کوناټی

waist/lower back *F3* [mlā] ملا

leg, foot *F1* [pəxá] پښه

thigh *M irreg.* [wrun] ورون

knee *M irreg.* [zangún] زنگون

elbow *F1-a* [tsangə́l] څنگل

shoulder *F1* [wogá] اوږه

arm, hand *M2* [lās] لاس

forearm *F1-a* [məṭ] مټ

calf *F2* [punḍəy] پونډی

<u>hand *M2* [lās] لاس</u>

finger, toe, thumb *F1* [gwə́ta] گوته

wrist *M2* [maṛwánd] مروند

palm *M3* [worghə́way] ورغوی

fingernail *M1* [nuk] نوک

<u>Verbs describing pain and injury</u>

ache *smp. vb.* [khogég-] خوږېږ-

hurt *adj 1* [zóbəl] ژوبل

injure *der. vb* [zoblaw-́] ژوبلو-

### Practice

1. Complain about something that hurts, e.g. سر مي خوږېږي.

2. In the following lines from the dialogue, substitute different words for the underlined word.

رابیا: په اسد څه شوي؟

داود: موټر يې ټکر کړی و. <u>ملا</u> يې ژوبله ده.

رابیا: ډېره ژوبله ده؟

داود: ښایسته ژوبله ده.

## Section 3: The Past Imperfective Form of 'be'

| *Singular* | | | *Plural* | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'I was' | [wəm] /[wum] | وم | 'we were' | [wu] | وو |
| 'you were' | [we] | وې | 'you (pl) were' | [wəy] | وئ |
| 'he was' | [wə] | ؤ | 'they (m) were' | [wə] | وو |
| 'she was' | [wa] | وه | 'they (f) were' | [we] | وې |

Notes:

1. The past imperfective forms of 'be' are parallel in use to 'was' and 'were' in English.

2. There are differences in pronunciation and spelling between the masculine and feminine forms in third person singular and plural.

### Practice

Change the نن in the following sentences to بېگا or [parún] پرون 'yesterday', and make the necessary changes in the verb.

١. نن يې ورونه او خوېندې په کور کې دی.
٢. نن سترې يم.
٣. نن پتنگ چېرې دې؟
٤. نن هوا ښکه ده؟
٥. نن پتنگ ته منتظر يو.
٦. نن هوا سخته توده ده.
٧. نن تاسې ډېر زيات مصروف ياستئ.
٨. نن ناجوړه يم.
٩. نن په کور کې خيريت دی؟
١٠. نن مېوې تازه دی؟
١١. نن خلك چېرې دی؟
١٢. نن د کافتريا ډوډی ښه ده؟
١٣. نن هوا سړه ده؟
١٤. نن سرکونه ډېر لانده دی.
١٥. نن يې ورونه او خوېندې په کور کې دی.

## Section 4: The Past Tense* Forms of Verbs

### Past Tense Form: Simple Verbs

*Regular:*

| *Present imperfective* | *Present perfective:* | *Past imperfective* | *Past perfective* |
|---|---|---|---|
| څک- | وڅک- | [tskəl-] څکل- | [wə́tskəl-] وڅکل- |
| لر- | ولر- | [larə́l-] لرل- | [wə́larəl-] ولرل- |
| لېږ- | ولېږ- | [legə́l-] لېږل- | [wə́legəl-] ولېږل- |
| رسو- | ورسو- | [rasawə́l-] رسول- | [wə́rasawəl-] ورسول- |
| وايـ- | ووايـ- | [wayə́l-] ويل- | [wə́wayəl-] وويل- |

*Irregular:**

| *Present imperfective* | *Present perfective:* | *Past imperfective* | *Past perfective* |
|---|---|---|---|
| اخل- | واخل- | [akhistə́l-] اخستل- | [wə̆khistəl-] واخستل- |
| لول- | ولول- | [lwistə́l-] لوستل- | [wə́lwistəl-] ولوستل- |
| گور- | وگور- | [katə́l-] کتل- | [wə́katəl-] وکتل- |
| غوارِ- | وغوارِ- | [ghuxtə́l-] غوښتل- | [wə́ghuxtəl-] وغوښتل- |
| اور- | واور- | [awredə́l-] اورېدل- | [wə̆wredəl-] واورېدل- |
| خور- | وخور- | [khwaṛə́l-] خوړل- | [wə́khwaṛəl-] وخوړل- |
| اغوند- | واغوند- | [aghustə́l-] اغوستل- | [wə̆ghustəl-] واغوستل- |
| يسـ- | ويسـ- | [yesedə́l-] سېدل- | [wə́yesedəl-] ويسېدل- |
| ښيـ- | وښيـ- | [xodə́l-] ښودل- | [wəxodə́l-] وښودل- |

Notes:

1. The past tense of simple verbs is formed by adding the past suffix [ə́l-] ل- to the present tense stem of the verb. The imperfective and perfective past forms are parallel to the imperfective and perfective present forms: the prefix و occurs with perfectives.

2. Many of the simple verbs are irregular: their past stems are different from their present stems.

---

* Asterisked grammar terms are defined and explained in the Glossary of Grammatical Terminology at the end of the Workbook.

## Past Tense Forms: Derivative Verbs

| *Present imperfective* | *Present perfective:* | *Past imperfective* | *Past perfective* |
|---|---|---|---|
| روانېږ- | روان ش- | [rawānedə́l-] -روانېدل | [rawā́n sw-] -روان شو |
| نژدې کېږ- | نژدې ش- | [nizde kedə́l-]-نژدې کېدل | [nizdé sw-] -نژدې شو |
| پخو- | پوخ کړ- | [pakhawə́l-] -پخول | [pókh kṛəl-] -پوخ کړل |
| معاينه کو- | معاينه کړ- | [māyena kawə́l-]-معاينه کول | [māyená kṛəl-] -معاينه کړل |

Notes:

1. The past imperfective form of intransitive derivative verbs is formed by changing [(k)eg] -(ک)ېږ of the present imperfective form to [(k)ed] -(ک)ېد , and adding the past tense suffix [əl] -ل.

2 The past perfective form of intransitive derivative verbs is formed by changing the -ش of the present perfective form to sw-] -شو.

3. The past imperfective form of transitive derivative verbs is formed by adding the past tense suffix [əl] -ل to the [(k)aw-] -(ک)و of the present imperfective form.

4. The past perfective form of transitive derivative verbs is formed by changing the -کړ of the present perfective forn to [kṛəl-] -کړل

## Practice

Give the present perfective, past imperfective, and pas. perfective forms for each of the verbs listed below.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اتڼ کو- | باد لګېږ- | تاوېږ- | ټيليفون کو- | درس وايـ- |
| اغوند- | بندېږ- | تمېږ- | خرڅېږ- | درېږ- |
| اورېږ- | پخو- | تېرو- | خوښو- | ډوډۍ خور- |
| اوسېږ- | پوښتنه کو- | تېرېږ- | څلك- | رسېږ- |

## Past Tense Forms: Doubly Irregular Verbs

Stress shift alone:

| Present imperfective | Present perfective: | Past imperfective | Past perfective |
|---|---|---|---|
| [ken-́] -کښېنې | [kén-] -کښېنې | [kenastə́l-] -کښېناستل | [kénastəl-]-کښېناستل |
| [pātség-] -پاڅېږ | [pātseg-] -پاڅېږ | [pātsedə́l-] -پاڅېدل | [pā́tsedəl-] -پاڅېدل |
| [rāwṛ-́] -راوړ | [rā́wṛ-] -راوړ | [rāwṛə́l-] -راوړل | [rā́wṛəl-] -راوړل |
| [warwṛ-́] -وروړ | [wárwṛ-]-وروړ | [warwṛə́l-] -وروړل | [wárwṛəl-] -وروړل |

Root change alone:

| Present imperfective | Present perfective: | Past imperfective | Past perfective |
|---|---|---|---|
| يم / يې etc. | -ش | -و | [sw-] -شو |
| -کېږ | -ش | -و | [sw-] -شو |
| -کو | -وکړ | [kṛəl-] -کړل | [wə́kṛəl-] -وکړل |
| -ځ | -لاړ / لاړه ش | [tləl-] -تلل | [lāṛ-] -لاړ |

Stress shift and root change:

| Present imperfective | Present perfective: | Past imperfective | Past perfective |
|---|---|---|---|
| -راکو | -راکړ | [rākṛə́l-] -راکړل | [rā́kṛəl-] -راکړل |
| -ورکو | -ورکړ | [warkṛə́l-] -ورکړل | [wárkṛəl-] -ورکړل |
| -درکو | -درکړ | [darkṛə́l-] -درکړل | [dárkṛəl-] -درکړل |
| -راځ | -راځ | [rāghlə́l-] -راغلل | [rā́ghləl-] -راغلل |
| -ورځ | -ورځ | [waraghlə́l-] -ورغلل | [wáraghl-] -ورغلل |
| -بيای | -بوز | [bowə́l-] -بوړل | [bótləl-] - بوتلل |

Note:

1. The past tense forms of doubly irregular verbs are irregular, and must be memorized individually.

## Past Tense Forms: Verbs Ending in -ېږ

| Present imperfective | Present perfective: | Past imperfective | Past perfective |
|---|---|---|---|
| اورېږ- | واورېږ- | [woredə́l-] واورېدل- | [woredəl-] واورېدل- |
| غږېږ- | وغږېږ- | [ghagedə́l-] وغږېدل- | [wə́ghagedəl-] وغږېدل- |
| درېږ- | ودرېږ- | [daredə́l-] ودرېدل- | [wə́daredəl-] ودرېدل- |
| پاڅېږ- | پاڅېږ- | [patsedə́l-] پاڅېدل- | [pátsedəl-] پاڅېدل- |
| روانېږ- | --- | [rawānedəl-] روانېدل- | --- |
| نژدې کېږ- | --- | [nizde kedəl-] نژدې کېدل- | --- |

Note:

1. The past tense forms of all verbs ending in -ېږ is formed by changing the final [g] ږ to [d] د, and adding the suffix [ə́l] ل.

## Practice

1. Without looking at the forms above, give the present perfective, past imperfective, and past perfective forms of the following groups of verbs:

| | | |
|---|---|---|
| راوړ- | ورکو- | خ- |
| وروړ- | راکو- | راخ- |
| | درکو- | ورخ- |

2. Give the present perfective, past imperfective, and past perfective forms of the following verbs:

'sow' *smp. tr. vb.* [kar-] کر-    'be quiet' *der. intr. vb.* [karāré̃g-] کرارېږ-

'close' *smp. tr. vb.* [taṛ-] تړ-    'open' *der. tr. vb.* [khlāsaw-́] خلاصو-

## Section 5: Reading

پښتانه تل د مريض پوښتنه کوی. دوی ته دا پښتني او ديني وظيفه ښکاری. کله چه څوك ډېر مريض شي خپلوان او دوستان يې هرومرو پوښتنې ته ورځی.

د مريض پوښتنې ته هم نارينه ځی او هم ښځې. په کلو کې د مريض پوښتنه، عموماً، مشران کوی او کشران د مريض پوښتنې ته نه ځی. مګر په ښارونو کې کشران هم د خپلو ملګرو پوښتنې ته ځی. څوك چه کولی شی، مريض ته تازه مېوه هم وړی. خو په کلو کې په ژمی او پسرلی کې تازه مېوه نه پيدا کيږی.

څوك چه د مريض پوښتنې ته ځی، هغه د مريض او د مريض له کورنۍ سره هم خواخوږی ښيی. او هم دا ورته وايی چه څه وکړی او يا څه شی وخوری. مثلاً که د چا تبه وی نو ورته وايی چه د خوسی پوست واغونده. که د مريض رنګ ژېړ وی نو ورته وايی چه زېړی دې پرې کړه. که د مريض سر خوږيږی، نو ورته وايی چه تاويز وکړه. که يې زنګون خوږيږی، نو ورته وايی چه تاوده خوشايی پرې کېږده. که د چا نس خوږيږی، نو ورته وايی چه سپېرکۍ وخوره.

## New Vocabulary

Nouns

sick (person), ill [maríz] مريض

duty F1 [wazifá] وظيفه

relatives [khpəlwā̃n] خپلوان

friend M1 [dost] دوست

elder M1 [máshər] مشر

younger person M1 [káshər] کشر

sympathies M3 [khwākhúgi] خواخوږی

fever F1 [təba] تبه

calf M3 [khusáy] خوسی

skin M2 [post] پوست

color M2 [rang] رنګ

hepatitis M3 [zéṛay] زېړی

amulet M2 [tāwíz] تاويز

cow manure M3 [khushāyí] خوشايی

stomach M2 [nas] نس

aniseed F2 [sperkə́y] سپېرکۍ

Verbs

look like *smp.* [xkār-] - ښکار

be found *der.* [paydā kég-] - پیدا کېږ

cut, get rid of *der.* [prekaw-́] - پري کو

put *dbl. irreg.* [kegd-] - کېږد

Adverbs, phrases, idioms

always [təl] تل

whoever [tsók tse] څوك چه

what to do [tsə́ wəki] څه وکړی

what to eat [tsə́ shay wəkhwri] څه شي وخوری

on it [pe] پري

Adjectives

ethnic *4* [paxtaní] پښتنی

religious *4* [dīní] دینی

yellow *1* [zeṛ] ژېړ

Conjunctions

whenever [kə́la tse] کله چه

however [mágar] مگر

## Have You Understood?

1. Describe in English the Pashtun custom of visiting the sick and injured.

2. Finish the following sentences.

۱. که څوك ډېر مریض شي نو...

۲. که د چا تبه وی نو...

۳. که د مریض رنگ ژېړ وی نو...

٤. که د مریض سر خوږیږی، نو...

٥. که د مریض زنگون خوږیږی، نو...

## Section 6: Diversions

متل:

روغ صورت پاچهی ده.

[rogh surát pāchāyí da.]

To have a healthy body is to be a king.

لندی:

پاس په بنگله کې ژړا خېژی
یا څوك مریض دی یا مین له ملکه ځینه

[pās pə banglá ke zaṛā́ khédzi
yā tsok maríz da yā mayán lə málka dzína.]

From upstairs in the bungalow there's the sound of crying -
Either someone is sick, or a lover is leaving the country.

# Unit 13: په بازار کې دې څه کول؟

## Section 1: Dialogue

اسد : پرون ماسپښین چېرې وې؟
امان: بازار ته تللی وم.
اسد : بازار کې دې بیا څه شی کول؟
امان: وړو ته مې یو څه کالی واخستل.
اسد : رښتیا دې هم څه شی واخستل او که دې هسې ورخ ورکه کړه؟
امان: نه، ښایسته زیات شیان مې واخستل. خوشحال ته مې دریشی، بوټونه او کمیسونه واخستل. سپین ته مې د خوب دریشي واخستله. تور ته مې کوټ او جاکټ واخسته. پېغلې ته مې یو دوه لمنې او موزې واخستلې. او د لیلا ملګرې ته مې په پاکستانی دوکان کې یوه جوړه پېښوری جامې واخستلې.
اسد : پېښوری جامې دې په څو واخستلې؟
امان: لکه چه ته هم غواړې تریسا ته یې واخلې؟
اسد : همداسې ښکاری.
امان: په اویا ډالره مې واخستې.
اسد : ښایسته خو دی؟
امان: بیخي ښایسته دی.
اسد : لکه چه لیلا خوارې ته دې هیڅ شی وا نه خسته؟
امان: نه بابا، لیلا ته څنګه شی نه اخلم! هغې ته مې یو ډېر ښه ساعت او یو د سروزرو د غاړې ځنځیر واخسته. رښتیا ځان ته مې هم یو پېښوری واسکټ او یو پټکی واخست.
اسد : پوهېږم چه ځان در باندې ډېر ګران دی.
امان: هو نو! چه ځان نه وی جهان دې نه وی.

## New Vocabulary

<u>Clothes</u>

clothes, things *M3* [kāli] کالی

suit *F irreg* [dareshí] دریشی

shoe *M2* [boṭ] بوټ

shirt *M2* [kamís] کمیس

sleep *M2* [khob] خوب

winter coat *M2* [koṭ] کوټ

sweater *M2* [jākáṭ] جاکټ

skirt *F1-[a]* [lamə́n] لمن

boot *F1* [móza] موزه

Afghan vest *M2* [wāskáṭ] واسکټ

Afghan turban *M3* [paṭkáy] پټکی

<u>Amān and Layla's children</u>

children *adj 5, OPl* [waṛó] وړو

*M1* [khushā́l] خوشحال

*M1* [spin] سپین

*M1* [tor] تور

*F 2* [pekáy] پېکۍ

<u>Adjective</u>

Peshawari *2* [pexawráy] پېښوری

<u>Other Nouns</u>

pair, set [joṛá] جوړه

watch *M2* [sāt] ساعت

gold *M2* [srəzár] سره زر

chain *M2* [zandzír] ځنځیر

self, body *M2* [dzān] ځان

world *M2* [jahā́n] جهان

<u>Adverbs, phrases, idioms</u>

really [rixtyā...həm] ربښتیا ... هم

just [áse] هسي

kill time [wrādz wrəkaw-́] ورځ ورکو-

exactly [bikhí] بیخي

no [hets] هیڅ

dear to x [x bānde grān] x باندي گران

## Practice

1. Answer the following questions.

١. کوټ دي اغوستی دی؟

٢. بوټونه دي اغوستي دي؟

٣. کمیس دي سپین دی؟

٤. د غاړي ځنځیر دي په غاړه کړی. ؟

٥. جامي دي نوي دي؟

2. Describe what you have on.

## Section 2: The Pashto Past Perfective Tense

### Intransitive Verbs

**Simple intransitive:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'I stopped' | [wə daredə́ləm] | ودرېدلم | 'We stopped' | [wə daredə́lu] | ودرېدلو |
| 'You stopped' | [wə daredə́le] | ودرېدلې | 'You all stopped' | [wə daredə́ləy] | ودرېدلئ |
| 'He stopped' | [wə daredə́] | ودرېده | 'They (m) stopped' | [wə daredə́lə] | ودرېدل |
| 'She stopped' | [wə daredə́la] | ودرېدله | 'They (f) stopped' | [wə daredə́le] | ودرېدلې |

**Derivative intransitive:**

| | | |
|---|---|---|
| 'I (m) got off' | [kúz swə́ləm] | کوز شولم |
| 'I (f) got off' | [kúza swə́ləm] | کوزه شولم |
| 'You (m) got off' | [kúz swə́le] | کوزشولې |
| 'You (f) got off' | [kúza swə́le] | کوزه شولې |
| 'He got off' | [kúz sə́] | کوز شو |
| 'She got off' | [kúza swə́la] | کوزه شوله |
| 'We (m) got off' | [kúz swə́lu] | کوز شولو |
| 'We (f) got off' | [kúze swə́lu] | کوزې شولو |
| 'You (m) all got off' | [kúz swə́ləy] | کوزشولئ |
| 'You all (f) got off' | [kúze swə́ləy] | کوزېشولئ |
| 'They (m) got off' | [kúz swə́] | کوز شول |
| 'They (f) got off' | [kúze swə́le] | کوزې شولې |

**Doubly irregular intransitives**

*Stress-shifting verbs, e.g.* پاڅېږ-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'I got up' | [pátsedələm] | پاڅېدلم | 'We got up' | [pátsedəlu] | پاڅېدلو |
| 'You got up' | [pátsedəle] | پاڅېدلې | 'You all got up' | [pátsedələy] | پاڅېدلئ |
| 'He got up' | [pátsedə] | پاڅېده | 'They (m) got up' | [pátsedələ] | پاڅېدل |
| 'She got up' | [pátsedəla] | پاڅېدله | 'They (f) got up' | [pátsedəle] | پاڅېدلې |

*Root change verbs, e.g.* ـځـ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'I went' | [lāṛə́ləm] | لاړلم | 'We went' | [lāṛə́lu] | لاړلو |
| 'You went' | [lāṛə́le] | لاړلې | 'You all went' | [lāṛə́ləy] | لاړلئ |
| 'He went' | [lāṛə́lə] | لاړه | 'They (m) went' | [lāṛə́lə] | لاړل |
| 'She went' | [lāṛə́la] | لاړله | 'They (f) went' | [lāṛə́le] | لاړلې |

*Stress and root change verbs, e.g.* ـراځـ (but see the comments in the Workbook!)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'I came here' | [rāghləm] | راغلم | 'We came here' | [rāghləlu] | راغللو |
| 'You came here' | [rāghləle] | راغللې | 'You all came here' | [rāghlələy] | راغللئ |
| 'He came here' | [rāghay] | راغی | 'They (m) came here' | [rāghlələ] | راغلل |
| 'She came here' | [rāghləla] | راغلله | 'They (f) came here' | [rāghləle] | راغللې |

Notes:

1. The Pashto past perfective tense is formed by adding the personal endings to the past perfective stem of the verb.

2. The personal endings are slightly different for the past tenses. The endings different from the present tense endings are the 3rd person endings as follows:

*3rd Masc. Sg.* : [ə] ـه *3rd Masc. Pl.* : [ə] ـه

*3rd Fem. Sg.* : [a] ـه *3rd Fem. Pl.* : [e] ـې

3. The suffix -ل is always dropped with the third personal masculine singular ending. In verbs which have different present and past roots, the suffix -ل is frequently dropped with the other endings as well, e.g.

4. In intransitive past tense sentences, the verb agrees with the subject in person and number.

## Practice

1. Fill in the paradigm with forms for the intransitive verbs listed below:

| | | | |
|---|---|---|---|
| 'I .. | __________ | 'We ...' | __________ |
| 'You ...' | __________ | 'You all ...' | __________ |
| 'He ...' | __________ | 'They (m) ...' | __________ |
| 'She ...' | __________ | 'They (f) ...' | __________ |

-کښېن -خبرېږ -راځـ -اور -اورېږ -تېرېږ -تاوېږ

## Transitive Verbs

**Simple transitive:**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'sent (me)' | [wə legə́ləm] | ولېږلم | 'sent (us)' | [wə legə́lu] | ولېږلو |
| 'sent (you)' | [wə legə́le] | ولېږلي | 'sent (you all)' | [wə legə́ləy] | ولېږلئ |
| 'sent (him)' | [wə legə́] | ولېږه | 'sent (them (m))' | [wə legə́lə] | ولېږل |
| 'sent (her)' | [wə legə́la] | ولېږله | 'sent (them (f))' | [wə legə́le] | ولېږلي |

**Derivative transitive:**

| | | |
|---|---|---|
| 'warmed (me (m))' | [tód kṛə́ləm] | تود کړلم |
| 'warmed (me (f))' | [tāwdá kṛə́ləm] | توده کړلم |
| 'warmed (you (m))' | [tód kṛə́le] | تود کړلي |
| 'warmed (you (f))' | [tawdá kṛə́le] | توده کړلي |
| 'warmed (him)' | [tód kə] | تودکې |
| 'warmed (her)' | [tawdá kṛə́la] | توده کړله |
| 'warmed (us (m))' | [tāwdə́ kṛə́lu] | تاوده کړلو |
| 'warmed (us (f))' | [tawdé kṛə́lu] | تودې کړلو |
| 'warmed (you all (m))' | [tāwdə́ kṛə́ləy] | تاوده کړلئ |
| 'warmed (you all (f)) | [tawdé kṛə́ləy] | تودې کړلئ |
| 'warmed (them (m))' | [tāwdə́ kṛə́lə] | تاوده کړله |
| 'warmed (them (f))' | [tawdé kṛə́le] | تودې کړلي |

**Doubly irregular transitive:**

*Stress shift verb, e.g.* راوړ-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'gave (me)' | [rā́wṛələm] | راوړلم | 'gave (us)' | [rā́wṛəlu] | راوړلو |
| 'gave (you)' | [rā́wṛəle] | راوړلي | 'gave (you all)' | [rā́wṛələy] | راوړلئ |
| 'gave (him)' | [rā́wṛə] | راوړه | 'gave (them (m))' | [rā́wṛələ] | راوړله |
| 'gave (her)' | [rā́wṛəla] | راوړله | 'gave (them (f))' | [rā́wṛəle] | راوړلي |

*Root change verb, e.g.* کو- وکړل-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'gave (me)' | [wə́kṛələm] | وکړلم | 'gave (us)' | [wə́kṛəlu] | وکړلو |
| 'gave (you)' | [wə́kṛəle] | وکړلې | 'gave (you all)' | [wə́kṛələy] | وکړلئ |
| 'gave (him)' | [wə́kṛə] | وکړه | 'gave (them (m))' | [wə́kṛələ] | وکړله |
| 'gave (her)' | [wə́kṛəla] | وکړله | 'gave (them (f))' | [wə́kṛəle] | وکړلې |

*Stress shift and root change verb, e.g* بیایی-

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 'took (me)' | [bótləlәm] | بوتللم | 'took (us)' | [bótləlu] | بوتللو |
| 'took (you)' | [bótləle] | بوتللې | 'took (you all)' | [bótlələy] | بوتللئ |
| 'took (him)' | [bótə] | بوتله | 'took (them (m))' | [bótlələ] | بوتلله |
| 'took (her)' | [bótləla] | بوتلله | 'took (them (f))' | [bótləle] | بوتللې |

Notes:

1. The past perfective tense of transitive verbs is formed with the same personal endings as the intransitives.

2. In transitive past tense sentences, the verb agrees with the object in person and number. Both the first component and the auxiliary of derivative verbs agree with the object.

## Practice

Fill in the paradigm with forms for the transitive verbs listed below:

| | | | |
|---|---|---|---|
| '... me' | __________ | '... us' | __________ |
| '... you' | __________ | '... you all' | __________ |
| '... him' | __________ | '... them (m)' | __________ |
| '... her' | __________ | '... them (f)' | __________ |

خور- لول- اغوند- گور- غوار-

مینه کو- شې- اور- اخل-

## Section 3: Using the Past Perfective Tense

### Examples

| | | |
|---|---|---|
| 'I went yesterday.' | [parún lāṛə́ləm.] | پرون ولاړم . |
| 'We lived in Logar.' | [pə logár ke wə́wosedəlu.] | په لوګر کي واوسېدلو. |
| 'Amān bought clothes.' | [amān jāme wākhistəle.] | امان جامي واخستلي . |
| 'We visited Laylā.' | [laylā́ mo wəkatə́lə.] | ایلا مو وکتله. |
| 'He took me home.' | [kór ta ye bótləm.] | کور ته يي بوتلم. |
| 'I saw him.' | [wə́ me lidə́.] | ومي ليده . |
| 'We took them.' | [bó mo tlə́lə.] | بومو تلله. |
| 'They cooked it.' | [pákha ye kṛá.] | پخه يي کړه . |

Notes:

1. The past perfective tense is equivalent to the English past tense.

2. In sentences with past tense transitive verbs, the verb agrees with the object in person and number.

3. In sentences with past tense transitive verbs, the subject is in the oblique case.

4. Weak pronoun objects are dropped in past tense sentences. (The ending on the verb indicates what pronoun has been dropped.)

5. Weak pronoun subjects are always expressed in past tense transitive sentences. As weak pronouns in the oblique case, they follow the usual rules for placement in sentences, e.g. after the first stressed element in the sentence.

## Practice

1. In the following sentences from the dialogue, identify the subject and object. Then explain the ending of the verb. Don't forget that the ل suffix can drop in verbs with different present and past stems, as well.

۱. په بازار کې دې ببا څه شی واخستله؟
۲. رښتیا دې هم ؟ واخستل؟
۳. لیلا خوارې ته دې څه شی وا نه خستله.
٤. ډرو ته مې یو څه کالی واخستل.
٥. ښایسته زیات شیان مې واخستل.
٦. تور ته دې کوټ او جاکټ واخسته.
۷. هغې ته مې ډېر ښه ساعت او یو د غاړې څنځیر واخسته.
۸. خان ته مې یو پېښوری واسکټ او پټکی واخسته.
۹. خوشحال ته مې دریشی، بوټونه او کمیسونه واخستل.
۱۰. سپین ته مې د خوب دریشی واخستله.
۱۱. پېکۍ ته مې یو دوه لمنې او موزې واخستلې.
۱۲. په پاکستانی دوکان کې مې یوه جوړه پېښورۍ جامې واخستلې.
۱۳. پېښورۍ جامې دې په څو واخستلې؟

2. In Pashto, tell someone:
   1. That you ate dinner in a restaurant last evening.
   2. That you took books to the library.
   3. That you wore your new boots to the party.
   4. That your car was sold for $500.
   5. That you bought some flowers for your mother.
   6. That it rained this morning.

3. Discuss yesterday's weather.

4. Ask a classmate what he/she did yesterday.

5. The following sentences are from previous dialogues and readings. Change them to past tense.

۱. کیمیا لولم.

۲. په لیلیه کې اوسېږم.

۳. یوازې پښتو لولې؟

٤. چیرې اوسېږې؟

۵. اوګردېرې زیاتې اوبه او خوږې مېوې لري.

٦. زما کورنۍ دوه ډېر لوی باغونه لري.

۷. سندرې وایي، اتنونه کوي او تالونه خوري.

۸. سخت باد لګیږي.

۹. واوره اوریږي؟

۱۰. سړکونه بیخي بندیږي.

۱۱. دې مېلې ته ټول افغانستان خلک ورځي.

۱۲. غرمه کافتریا ته ځي، ډوډۍ خوري.

۱۳. د شنبې په ورځ به ټول ملګري ډوډۍ ته را وغواړو.

۱٤. له وطنه خبرېږې؟

۱۵. ډېر خو نه خبرېږم.

۱٦. کله کله یو نیم خط راځي.

۱۷. د وطن په باره کې څه اورې؟

۱۸. اسد به مې بوزي.

۱۹. ما به کورته ورسوې؟

## Section 4: Reading

پښتانه عموماً ملي جامې اغوندي. يوازې په ښارونو کې ځيني غربي جامې اغوندي. د نارينه وو ملي جامې کميس، پرتوگ، واسکټ، خولۍ او پټکي او څادر دي. د ښځو ملي جامې کميس، پرتوگ او ټيکرى دي.

د افغانستان په شمالي ولايتونو کې نارينه د څادر په ځاى چپن اغوندي. په ځينو سړو غرنيو سيمو کې لکه نورستان او هزارجات نارينه وړيني کورتۍ اغوندي. په غزني او کوهستان کې نارينه په ژمي کې پوستينچه اغوندي. ښځې په ټول افغانستان کې پرته له ښارونو نه، اوړى او ژمي کميس، پرتوگ او ټيکرى اغوندي. په ښارونو کې ځينې ښځې له کوره بهر چادرى هم اغوندي.

خلك خپلې جامې عموماً په کورونو کې جوړوي. په ځينو سيمو کې دجامو ټوکر هم په کورونو کې جوړيږي. خو اکثره خلك ټوکر له بازاره اخلي. د ملي جامو ټوکران اکثره له هندوستان او جاپان نه راځي. پښتانه ـ که ښځې دي که نارينه ـ اکثره پڼې او څپلۍ پښو کوي. خو ډېر پښتانه او پښتنې پښبيلې هم گرځي.

### New Vocabulary

Clothes

tunic, dress *M2* [kamís] کميس

trousers *M irreg.* [partúg] پرتوگ

hat, skullcap *F2* [khwaláy] خولۍ

shawl *M2* [tsadár] څادر

scarf *M2* [ṭikráy] ټيکرى

coat *M2* [chapán] چپن

jacket *F2* [kurtáy] کورتۍ

chadri *F irreg.* [chādarí] چادرى

slipper *F1* [paṇá] پڼه

sandal *F2* [tsapláy] څپلۍ

Preposition
outside ... [lə ... na bahár] له ... نه بهر

Adverbs, phrases, idioms
instead of x [de x̌ pə dzā̃y] د x په ځای
both x and y [ka x̌ di ka ý] که x دی که y
wear (on feet) [pxo kaw-́] پښو کو-
barefoot [pəxébla] پښېبله

Verbs
sew *der.* [joṛaw-́] جوړو-
be sewn/woven *der.* [joṛég-] جوړېږ-
walk *smp* [gərdzég-] گرځ-

Nouns
province *M2* [wəlāyát] ولايت
material *M1* [tukár] توکر

Places
Nuristan [nuristā́n] نورستان
Hazarat [azarajā́t] هزارجات
Koyestan [koyestā́n] كوهستان
Japan [jāpán] جاپان

Adjectives
national *4* [millí] ملی
some *4* [dzine] ځیني
western *4* [gharbí] غربی
northern *4* [shamālí] شمالی
mountainous *2* [gharanáy] غرنۍ
wool *1* [waṛína] وړینه

## Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. د پښتنو د ملی جامو توکران عموماً له کومو وطنونو نه راځي؟
٢. پښتانه او پښتنې څه شی په پښو کوی؟
٣. د کومو ولايتونو خلك پوستينچې اغوندی؟
٤. پښتانه خولۍ او پتکی اغوندی؟
٥. چادری څوك اغوندی؟

2. In the *National Geographic* articles on Afghanistan (September 1968; June 1985, and April 1985), identify the various pieces of Pashtun/Afghan clothing on the people in the pictures.

## Section 5: Time Phrases

| | | |
|---|---|---|
| last night | [begā māxə̃m] | بېگاه ماښام |
| yesterday afternoon | [parún māspaxín] | پرون ماسپښین |
| day before yesterday | [wə́ṛma wrādz] | ورمه ورځ |
| last week | [téra hafta] | تېره هفته |
| last month | [téra myāst] | تېره میاشت |
| last year | [tér kāl] | تېر کال |
| | [parósagkāl] | پروسږ کال |
| before x | [lə ... na pəkhwā] | له ... نه پخوا |
| x days ago | [x wradze pəkhwā] | څو ورځې پخوا |
| a little while ago | [ləg pəkhwā] | لږ پخوا |

### Practice

1. Answer the following questions.

۱. بېگاه ماښام دې څه وکړل؟
۲. تېره هفته چېرې لاړلې؟
۳. پرون ماسپښین له چا سره وې؟
٤. له پښتو نه پخوا دې کومې ژبې ولوستلې؟
۵. پروسږ کال ډېر باران و اورېده؟
٦. نن سهار څه وخت پاڅېدلې؟

2. Finish the following sentences.

۱. کورنۍ مې تېر کال....
۲. پرون د پښتو په صنف کې ....
۳. بېگاه شپه مې ....
٤. لږ پخوا هر څوک ....
۵. تېر کال په افغانستان کې ...

## Section 6: Diversions

ملا نصرالدين بازار ته ولاړ او يو واسکټ يې خوښ کړ. دوکاندار واسکټ په کاغذ کې ورته تاو کړ، خو ملا پښېمانه شو او دوکاندار ته يې وويل چه له واسکټ نه چپنې ته زيات ضرورت لری او غواړی چه چپن واخلی. دوکاندار چپن په کاغذ کې ورته وتړله او ورېې کړه.
ملا چپن واخسته او بې له دې چه پېسې ورکړی روان شو.
دوکاندار ورته وويل: ملا صاحب دچپنې پېسې دې ندی راکړی.
ملا ورته وويل: د چپنې په ځای مې واسکټ درته پرې ښوده.
دوکاندار ورته وويل: د واسکټ پېسې خو دې نه دې راکړی.
ملا ور ته وويل: څه شی چه نه اخلم د هغه پېسې ولی درکړم.



Nouns

paper *M2* [kāgház] کاغذ
need *M2* [zarurát] ضرورت

Verbs

choose *der. t.v.* [khwax kaẃ-] خوښ کو-
change one's mind *der. i.v.*
[paxemāna kég-] پښېمان کېږ-
tie *smp. t.v.* [taṛ-] تړ-
leave (something somewhere) [préxod-] پرېښود-
*pst perf. of dbl. irreg. t.v.* [pregd-] پرېږد-

Adverbs, phrases, idioms

without having paid [be la de che payse wárkṛi] بې له دې چه پېسې ورکړی
something I didn't buy [tsa shay tse nákhlam] څه شی چه نه اخلم
why *question word* [wále] ولې

# Unit 14: په کار پسې ګرځېدلم

## Section 1: Dialogue

لیلا: دا څه موده نه ړې؛ چېرې وې؟

رابیا: مرېلنډ ته تللې وم.

لیلا: په مریلنډ کې دې څه کول؟

رابیا: په کار پسې ګرځېدلم.

لیلا: چېرې اوسېدلې؟

رابیا: د مې له نهه ویشتمه د جون تر دویمه پورې په بالتیمور کې له خپلې یوې پخوانۍ ملګرې سره اوسېدلم او د جون له دویمه د جون تر پنځمه پورې په اوشن ستی کې د جون له کورنۍ سره اوسېدلم.

لیلا: څه دې وکړه؟

رابیا: اکثره په کار پسې ګرځېدلم، خو کله کله د سمندر غاړې ته مېلې او لامبو ته هم تللم.

لیلا: رښتیا کار دې پیدا کړ؟

رابیا: نه، په دې ورځو کې د کارپیداکول آسانه نه دی.

لیلا: په بالتیمور سن کې دې هم کار پیدا نشو کړی؟

رابیا: نه، هلته مې هم پیدا نشو کړی.

لیلا: څه وخت بېرته راغلې؟

رابیا: ورمه ورځ.

لیلا: ښه شو چه راغلې، د شنبې په شپه د اسد د ملګری واده دی. تول یې غوښتی یو.

## New Vocabulary

**American names**

Maryland [mereländ] مریلند

Baltimore [baltimór] بالتیمور

Ocean City [oshən sití] اوشن ستی

*Baltimore Sun* [baltimor sə́n] بالتیمورسن

**Nouns**

ocean *M irreg.* [samandár] سمندر

bank (i.e. beach) *F1* [ghā̃ṛa] غاړه

swimming *n, F3* [lāmbó] لامبو

office *M irreg.* [daftár] دفتر

**Verb**

find *der.* [paydā kaw-] پیدا کو-

**Adjectives**

longtime *adj 2* [pəkhāwnə́y] پخوانی

easy *adj 1* [asā̃n] آسان

**Adverbs, phrases, idioms**

for awhile [dā tsə́ moda] دا څه موده

look for work [pə kā̃r pəse gərdzég-] په کار پسي گرځېږ-

these days, now [pə de wrádzo ke] په دي ورځو کي

## Practice

1. Say the following western dates in Pashto. Follow the pattern د مي نه ویشتم

| | | |
|---|---|---|
| May 24th | March 21st | January 31st |
| June 2nd | July 17th | August 12th |
| September 13th | February 18th | October 26th |
| December 24th | April 5th | November 9th |

2. List American holidays and their dates, in sentences like

د جولای په څلورم رخصتی ده.

## Section 2: The Past Imperfective Tense

### Examples

| | | |
|---|---|---|
| 'What were you doing?' | [tsə́ de kawə́lə?] | څه دې کول؟ |
| 'I was looking for work.' | [pə kăr pəse gərdzedə́ləm.] | په کار پسې ګرځېدلم. |
| 'Where were you staying?' | [chére wosedə́ie?] | چېرې اوسېدلې؟ |
| 'The rice wasn't cooking.' | [palaw nə́ pakhedə.] | پلو نه پخېده. |
| 'Laylā was dancing the atan.' | [laylā atáṇ kāwə́.] | لیلا اتڼ کاوه. |
| 'Asad was cooking.' | [asad ḍoḍə́y khwaṛə́la.] | اسد ډوډۍ خوړله. |
| 'Rabya was going to school.' | [rābyā maktab ta tlə́la.] | رابیا مکتب ته تلله. |
| 'Patang was riding a horse.' | [patang pə as sparedə́la.] | پتنګ په اس سپرېده. |
| 'Asad was doing the translation.' | [amad tarjuma kawə́lə.] | اسد ترجمه کوله. |
| 'Layla was bringing the rice.' | [laylā palaw rāwoṛ.] | لیلا پلو راووړ. |

Notes:

1. The past imperfect tense in Pashto is parallel in meaning to English progressive past tense, e.g. 'I was stopping,' 'He was sending me,' etc.

2. The past imperfect tense is formed by adding the past tense personal endings to the past imperfective stem of the verb.

3. Verb agreement (with the subjects of intransitive verbs, and the objects of transitive verbs), dropping of weak pronouns, and behavior of irregular verbs is the same as for the past perfective tense.

### Practice

1. Fill in the paradigm with forms for the intransitive verbs listed below:

| | | | |
|---|---|---|---|
| 'I was ...' | _______ | 'We were ...' | _______ |
| 'You were ...' | _______ | 'You all were ...' | _______ |
| 'He was ...' | _______ | 'They (m) were ...' | _______ |
| 'She was ...' | _______ | 'They (f) were ...' | _______ |

تمېږ- پېداکېږ- روانېږ- پښېمانېږ- چنې وه- ګرځېږ-

انتظارباس- ښه ایس- اوړېږ- کښېن- ورځ- راځ-

2. Fill in the paradigm with forms for the transitive verbs listed below:

'was/were ...(me)' _______ 'was/were ...(us) _______

'was/were ...(you)' _______ 'was/were ...(you all)' _______

'was/were ...(him)' _______ 'was/were ...(them (m))' _______

'was/were ...(her)' _______ 'was/were ...(them(f))' _______

وینـ- لېږ- تړ- وروړ- پرېږد- مینه کو- خوښو- اور- رسو-

3. In the following sentences from the dialogue, identify the tense and aspect of the underlined verbs, and give an idiomatic translation.

۱. په مرېلنډ کې دې څه کول؟

۲. په کار پسې ګرځېدلم.

۳. چېرې اوسېدلې؟

٤. څه دې وکړل؟

٥. اکثره په کار پسې ګرځېدلم.

٦. کله کله د سمندر غاړې ته مېلې او لامبو ته هم تللم.

۷. رښتیا کار دې پیدا کړ؟

۸. په بالتمور سن کې دې هم کار پیدا نشو کړی؟

۹. څه وخت بېرته راغلې؟

۱۰. ښه شو چه راغلې.

4. Answer the following questions about the Pashtuns and Pashto students:

۱. اسد څه کول چه ملا یې ژوبله کړه؟

۲. د اسد ورور په لوګر کې په بازار کې څه کول؟

۳. کله چه تریسا پېښوری جامې اغوستلې وې څنګه ښکارېدله؟

٤. چا غوښتل چه تریسا د امان او لیلا د مېلمستیا نه کورته بوزي؟

٥. د لیلا او امان په مېلمستیا کې څوک د افغانستان په باره کې غږېدل؟

٦. امان په بازار کې څه اخستل؟

5. Answer the following questions.

۱. نن سهار دې څه کول؟

۲. پرون دې څه شی اغوستل؟

۳. نن سهار چه صنف ته راتلې هوا څنګه وه؟

٤. کله چه نن سهار مکتب ته تلې چا ولیدلې؟

## Section 3: The Pashto Infinitive

### Examples

| | | |
|---|---|---|
| 'Finding work is not easy.' | [kăr payda kawə́l āsāna nə di.] | کار پیداکول آسانه نه دي. |
| 'Layla likes to cook.' | [ḍoḍəy pakhawə́l de laylā xə́ yisi.] | ډوډۍ پخول د لیلا ښه ایسي. |
| Theresa likes studying Pashto. | [paxto lwistə́l de terisá xə́ yisi.] | پښتو لوستل د تریسا ښه ایسي. |
| Learning Pashto takes a lot of time. | [paxto zdakawə́l dér̥ wakht ghwār̥i.] | پښتو زده کول ډېروخت غواړي. |
| We have studied [kedə́l] and [kawə́l]. | [kedə́l aw kawə́l mo lwəstə́li di.] | کېدل او کول مو لوستلي دي. |
| What is the difference between [tləl] and [bowə́l]? | [tləl aw bowə́l tsə́ farq lari?] | تلل او بیول څه فرق لري؟ |

Notes:

1. The imperfective past verb stem is the infinitive of the verb. The infinitive is parallel in use to the English gerund, e.g. 'finding work', or infinitive, e.g. 'to cook'.

2. All infinitives are masculine plural.

3. In traditional Pashto grammar, the infinitive is the citation form of the verb. Pashtuns refer to verbs in this form, e.g. the last two example sentences.

### Practice

1. Give the traditional infinitive form for the following verbs:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بیایي- | تېرو- | خوښو- | درکو- | لېږ- | څک- |
| راوړ- | ورېږ- | راکو- | ورځ- | برابرو- | خبرو- |
| اور- | ایس- | خور- | اغوند- | ښیي- | غواړ- |
| ورکو- | راځ- | ځ- | وین- | کښېن- | باس- |

## Section 4: Reading

په افغانستان کې په جنترۍ کې اسلامي شمسي مياشتې، اسلامي قمري مياشتې او غربي مياشتې درې واړه ليکل شوي وي. مګر خلک، معمولاً، له شمسي حساب نه کار اخلي. شمسي کال څلور موسمونه او دولس مياشتې لري. د کال څلور موسمونه پسرلی، اوړی، منی او ژمی دي. هر موسم درې مياشتې دي. د پسرلي موسم د مارچ په يوويشتم شروع کېږي.

د شمسي کال دوولس مياشتې حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، ميزان، عقرب، قوس، جدي، دلو او حوت دي. د حمل د مياشتې اوله ورځ د کال شروع او د مارچ له يوويشتمې سره برابره ده. د حمل په اوله ورځ شپه او ورځ يو برابر وي.

دا د شمسي مياشتو نومونه ټول عربي دي. پښتو مرکې او پښتو ټولنې د شمسي مياشتو نومونه پښتو کړل. دوی کوشش وکړ چه دغه نومونه عام کړي. خو دا کوشش اساساً ناکامه شو. اما دپښتو ژبې ځينې ليکوالان يې لاهم استعمالوي.

په افغاني جنترۍ کې هم عموماً د عربي نومونو تر څنګ پښتو نومونه هم ليکل شوي وي.

### New Vocabulary

Nouns

calendar *F irreg.* [jantarí] جنتري

beginning, start *F irreg* [shuró] شروع

name *M2* [num] نوم

Arabic (language) *F irreg* [arabí] عربي

attempt *M2* [koshə́sh] کوشش

failure *F1* [nākā́ma] ناکامه

language *F1* [zəba] ژبه

writer *M1* [likwā́l] ليکوال

Verbs

begin *der.* [shuro kég-] - شروع کېږ-

popularize *der.* [ām kaw-] - عام کو-

use *der.* [istimālaw-] - استعمالو-

Adjectives

Islamic *4* [islāmí] اسلامي

solar *4* [shamsí] شمسي

lunar *4* [qamarí] قمري

corresponding, equal *1* [barābár] برابر

Months

[hamál] حمل

[sáwar] ثور

[jawzā] جوزا

[saratān] سرطان

[asád] اسد

[sunbulá] سنبله

[mizān] ميزان

[aqráb] عقرب

[qaws] قوس

[jádi] جدی

[dálwa] دلو

[hut] حوت

Adverbs, phrases, idioms

all three [dréwāṛa] درې واړه

are written [likəl sáwe wi] ليکل شوی وی

however, but [mágar] مگر

usually [māmúlan] معمولاً

use [kār akhl-] - کار اخل-

Pashto Society [paxtó maraka] پښتو مرکه

Pashto Academy [paxto ṭolana] پښتو ټولنه

basically *adv.* [asāsan] اساساً

however *conj.* [ámā] اما

still *adv.* [lāhám] لا هم

side by side with [de ... tər tsáng] د ... تر څنگ

## Have You Understood?

١. په کومو میاشتو کې هوا ډېره سړه وی؟

٢. د پسرلی گلان په کومو میاشتو کې راوزی؟

٣. غربی جنتری شمسی ده که قمری؟

٤. پښتانه د میاشتو پښتو نومونه استعمالوی او که عربی نومونه؟

٥. د مارچ یوویشتم د حمل له کومې ورځې سره برابره ده؟

٦. د کال کومې ورځې ته نوروز وایی؟

٧. پسرلی څه وخت شروع کېږی؟

٨. اوړی څو میاشتی دی؟

٩. په جدی، دلو او حوت کې هوا څنگه وی؟

## Section 5: The Afghan calendar

| له څو میاشتو سره برابره؟ | څو ورځې؟ | پښتو نومونه | موسم: عربی نومونه |
|---|---|---|---|
| March - April | ۲۱ | [wuráy] وری | حمل |
| April - May | ۲۱ | [ghwayáy] غویی | ثور |
| May - June | ۲۱ | [ghbargólay] غبرگولی | جوزا |
| June - July | ۲۱ | [changǎx] چنگاښ | سرطان |
| July - August | ۲۱ | [zmaráy] زمری | اسد |
| August - September | ۲۱ | [wágay] وږی | سنبله |
| September - October | ۳۰ | [tála] تله | میزان |
| October - November | ۳۰ | [laṛám] لړم | عقرب |
| November - December | ۳۰ | [lindá] لینده | قوس |
| December - January | ۳۰ | [marghómay] مرغومی | جدی |
| January - February | ۳۰ | [sālwāghá] سلواغه | دلو |
| February - March | ۲۹ | [kab] کب | حوت |

### Practice

1. Get a western calendar (for a non-leap year), and write in the Afghan solar calendar dates. Then:
   a. Figure out the date of your birthday on the Afghan calendar.
   b. Fiqure out the Afghan dates for the summer and winter solstices, and the vernal and atumnal equinoxes.

2. Look at the calendar on the next page, then answer the questions below.

۱. میاشت د هفتې په کومه ورځ شروع کېږی؟
۲. د حمل کومه ورځ د می له اوه لسم سره برابره ده؟
۳. په غربی جنتری کې د میاشتې درې یمه دوشنبې کومه ورځ ده؟
٤. په شمسی جنتری کې د میاشتې درې یمه دوشنبې کومه ورځ ده؟
٥. په شمسی جنتری کې د هفتې اوله ورځ کومه ورځ ده؟
٦. ثور په کومه ورځ شروع کېږی؟

| حمل | | | | | | وری |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جمعه | پنجشنبه | چهارشنبه | سه شنبه | دو شنبه | یکشنبه | شنبه |
| ٢ 22 | ١ 21 | | | | | |
| ٩ 29 | ٨ 28 | ٧ 27 | ٦ 26 | ٥ 25 | ٤ 24 | ٣ 23 |
| ١٦ 5 | ١٥ 4 | ١٤ 3 | ١٣ 2 | ١٢ 1 | ١١ 31 | ١٠ 30 |
| ٢٣ 12 | ٢٢ 11 | ٢١ 10 | ٢٠ 9 | ١٩ 8 | ١٨ 7 | ١٧ 6 |
| ٣٠ 19 | ٢٩ 18 | ٢٨ 17 | ٢٧ 16 | ٢٦ 15 | ٢٥ 14 | ٢٤ 13 / ٣١ 20 |

## Section 6: Diversions

یوه چرچرك تهول اوړی او منی په سندرو تېر کړ. ژمی د خمکی مخ واوري پټ کړ او چرچرك څه نه لرل چه و يې خوري. همدا ۋ چه مېږتانه ته ورغی چه کومك ور سره وکړی.

مېږتانه چرچرك نه پوښتنه وکړه چه تهول کال دي څه کول چه اوس په خان پوري حيران يي؟

چرچرك ورته وويل چه تهول کال مي سندري ويلي. مېږتانه ورته وويل چه تهول کال دي سندري ويلي اوس ورخه اتڼ کوه.

**Verb**

cover *der.* [pəṭ aw-] پټ کو-

ورغی = ورغلی

**Nouns**

cricket *M1.* [charcharák] چرچرك

earth *F1.* [mdzə́ka] ځمکه

ant *M irreg.* [megatún] مېږتون

**Adverbs, phrases, idioms**

it happened [amdā wə] همدا ۋ

at a loss [pə dzān pore aryān] په خان پوري حيران

END

U.S. Dept. of Education

Office of Education
Research and
Improvement (OERI)

ERIC

Date Filmed

March 21,1991